ا. ک. مسعود ۲۰۱۰/۰۹/۱۰م

# ټولنپوهنيز - کلتوري بحث:

دويمه مقاله

کله چې دپښتنوپه ټولنيز ،سياسي اوپه تيره په کلتوري تاريخ خبرې کوو ، نو له لرې اولنډې سريزې وروسته ارو مرو چې په روښاني غورځنګ تم کيږو - روښاني غورځنګ چې د بايزيد انصاري له خوا چې په روښان مشهور دی ،پيل شو دپښتنو دهويت اوتشخص له پاره دعطف ټکی دی - په دې مانا چې دغه نهضت داسې څه پښتنو ته ورکړه چې دمخه يې نه درلودل :
دمثال په توګه بايزيد روښان ديو متفکر په توګه يو لوی ذهني اوفکري انقلاب راووست - دی پوره زړور سړی و - چې په پوره زړورتيا يې وکړای شول دمذهبي اوعرفاني پوهې په رڼا کې يو مشال بل کړي - اودپښتنو دبرم اوعظمت د راژوندي کولو له پاره جنډه پورته کړي -
نوموړي دهيڅ راز تبليغاتو اوپروپاګندونو پروا ونه کړه - اوپه پوره متانت يې هغه څه ( هم په مذهبي لحاظ اوهم په سياسي لحاظ ) وويل چې دمخه چا نه وويلې-
بله داچې پيرو روښان اودهغه پيروانو وکړای شول په پښتو ژبه کې دلومړي وار له پاره پوره اوبشپړ ديوانونه ايجاد کړي - چې دمخه نه و -
همدا رنګه روښان پير دخيرا لبيان په ليکلو سره په پښتو کې داسې يو خط ايجاد کړ چې پښتو يې ددوزخ دژبې پر ځای دجنت ژبه اودالهياتو ژبه وګرځوله -
په خيرالبيان کې دانسان هغه تهور اوجرات وينو چې په نورو نړيوالو اسماني کتابونو کې شته - روښان اودهغه پيروانو په خپلو اثارو کې شرقي فلسفه اوتصوف اودهغه په رڼا کې دانسان يونيورسل ستونزه مطرح کړه -
اوبله داچې روښان يو سياسي شخصيت هم و چې ټولې ستونزې ورته له همدې زاويې ورپيښې اوځان يې په خپله لار کې فدا هم کړ - کنه نو دی هم ملا وو ، په الهياتو له هر چا ښه پوهيده ، اودحالنامې په قول چې قاضي خان ورته وايي : (( ته په دغه جاهل (!) قوم ( مانا يې پښتانه دې ) څه کوي را ځه اوله موږ سره کار وکړه - روښان په ځواب کې وايي : زه خدای پاك دهمدې قوم لارښوونې ته پيدا کړی يم - )) جوتيږي چې هغه په خپل سر کې ډيرې سودا وی درلودې - چې په دې بحث کې يې ځای نشته -
ددبستان مذاهب مولف ليکي :

وی با حضرت ميرزا محمد حکيم بن حضرت همايون پادشاه معاصر بود ۰ نامه نګار از ميرزا شاه محمد مخاطب به غزني خان شنيده بود که ګفت : (( ميا روشان درنهصد وچهل ونه قوي شد ۰مذهب اورواييي يافت ۰ پدرم شاه بيګ خان ارغون مخاطب به خان دوران ميا بايزيد را ديده بود ۰ ميګفت : پس از خروج وی را به مجلس ميرزا محمد حکيم خان اوردند ۰ علما از مناظره او باز ماندند ، لاجرم اورا رخصت انصراف ارزاني داشته دراوايل سنه اربع وتسعين وتسعمايه خبر شنقار شدن خضرت ميرزا حکيم از کابل به سمع حضرت عرش اشياني رسيد ۰ )) وقبر ميان بايزيد دربهته پور است ازکوهستان افغانان ۰ ۲۸۴ م: دبستان مذاهب ۰

راځو بلې مسالې ته اوهغه دروښان سره دپرديو زرخريدو ملايانو دوښمنې وه - په دې بحث کې په همدې مساله تمرکز کوو .

ځينې خلك وايي چې دروښان اواخوند درويزه مخالفت صرف مذهبي جنبه درلوده - خو دا خبره اوس په ډاګه ده چې دروښاني غورځنګ سره دسياسي جنبش په توګه دمغلو دامپراتوري دپلويانو له خوا مخالفت کيدلو ۰
درويزه وايي :۰(( درويزه چې څه بيان کا واړه دين دپاك نبي بيانوينه ، پښتانه په بله ژبه نه پوهيږي ، ځکه دی يې په پښتو وروښيينه ۰ واړه دين دپاك نبي بيانومه ، وپوهيږئ مومنانو ددې پاك نبي له دينه په دا خپله ژبه پوه شئ افغانانو بل غرض مې په کې نشته مګر داچې شفقت کړم پر عاميانو ، هر چېې دا باور يې نه وي څه تهمت راباندې وايي ، هغه کس دې ودريږي له بې دينو له بې ايمانو ۰ ))

سيد علي ترمذي مشهور په پير بابا اوده مريد اوخليفه اخوند درويزه دبايزيد روښان پر ضد دمخالفت جنډه پورته کړه ۰ سيد علي ترمذي دګورګانيانو خوريي اودګورګاني پاچا هانو له مقربينو اومعتمدينو څخه و ۰ که چيرې دا خبره يعني سياسي مخالفت نه وي نو ولې کله چې جلال الدين روښاني ماتې وخوړه اخوند درويزه هم خپلې ليکنې


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

بس کړي ۰ تردې وخته پورې اخوند درويزه دمخزن الاسلام نه علاوه دارشادالطالبين ، تذکره الابرار والاشرار اوارشادالمريدين په نامه کتابونه ليکلي وو ۰
سيد تقويم الحق کاکاخيل مرحوم اوځينې نور پوهان په دې باور دي چې :
.سره له دې چې ځينې کسان په دې باور دي چې اخوند درويزه بالکل په حقه وو اودده ټول تبليغ داسلام دمدافعيت له پاره و ليکن ځينې نور داسې عوامل اوخبرې منځ ته راغلې دي چې دهغو په وجه نن بعضې خلك داخوند درويزه اودهغه دپير طريقت پير بابا دغه ديني خدمتونو ته خالص په ديني نقطه نظر سره نه گوري ، بلکې په دې وجه چې بايزيد انصاري پښتون و اوپه مقابل کې اخوند درويزه اوپير بابا دواړه پښتانه نه و اوبل خواته بايزيد دهغې زمانې دمغول حکمرانانو په خلاف سياسي جد وجهد کولو ، نو دابعضې خلك دا خيال کوي چې که اخوند درويزه دبايزيد انصاري مخالفت نه وای کړی نو بايزيد به دمغولو په مقابل کې دپښتنو دخودمختاره حکومت په جوړولو کې بريالي شوي وای ، اوهم په دې خيال نن ورځ داخوند درويزه په هکله نامناسب الفاظ هم استعمالوي ، .، .۰۰
داثارو اوشواهدو له مخې : سيد علي ترمذي شاه صاحب په اصل کې دترکستان و ، پلار يې دهمايون پاچا په پوځ کې صاحب منصب و ، کوم وخت چې شيرشاه همايون ته ماتې ورکړه اوهمايون در په در گرځيده نو دسيد علي پلار هم ورسره ملگری و . ده داشرفيو ډکه هميانۍ خپل زوی (سيدعلي شاه ) ته ورکړه اوپخپله له همايون سره ولاړ . دشيرشاه سپاهيانو دغه هميانۍ له سيد علي نه واخيسته ،بياکوم وخت چې دهمايون زوی اکبر پاچا هې ته ورسيده ، سيد علي دپير روښان سره مقابله شروع کړه . (محمد اصف خان تاريخ سوات . )

همدا ډول :
داخوند درويزه تذکرت البرار والاشرار دوهمه برخه دافغانانوپه باب ده اوپه هغو کې دپښتنو داکثرو پيرانو ته بد ويل شوي د ي اودپښتنو په باب يې هم هر ډول بې مسووليته الفاظ کارولي دي۰ درويزه په دې خبره سخت تاسف کوي چې دپښتنو غرنۍ سيمې ولي دهغه وخت دپاچا هانو تابع نه دي ۰ اوباالمقابل دملکانو اوپيرانو تر نفوذ لاندې راغلي دي ۰ دا ټول داخوند درويزه دغوښتنو اوهدفونو نماينده گي کوي ۰
دمثال په توگه په تذکرت الابرار والاشرار کې ليکي :

(( ۰۰۰۰ هم از انست که در دلهای افغانان تا اين غايت لطافت ورافت نادر ميباشد بل هر که از ايشان ديانت ولطافت ديني ورزد اورا بااستهزا پيش ميايند ۰ اهل وقبايل وعيال اورا گم شده ميگويند بل مرده ميگويند ۰ القصه اين مردم افغانانرا از قديم رسم واپين بران بود که از غايت جهل وصلابت دل درميان همديگر بادشاهې را برخود جايز نداشتند چه ايشانرا تکبر وخود بيني بران داشته که چگونه درحضور يکي از اقربا خويش عجز وفروتني کشيم خودنوکر وان ديگر را بادشاه گويم ۰ بل مساوې يکديگر باشيم هم از انست که افغانان را ملك گويند درعرف وديار ما زيرا که ايشانرا ملکان ميباشند وبادشاهان کمی باشند هر کدام از خوردك وبزرگ ايشان خودرا ملك ميگويند ۰ ۰۰۰۰۰)) ۸۳ مخ قصه خانه چاپ ۰
اخوند درويزه نه يوازې يو ځای بلکې ځای ځای پښتنو ته دجاهلو اوعهد شکنو اوپه خپل قوله دنه ولاړو خلکو اوداسې نور خطابونه کړي دي . نوموړي چې په سيده توگه دمغلو دحکومت مبلغ وو ، په ډېره ماهرانه توگه دا خبره تلقينوي چې گويا پښتانه دخپل حاکميت دجوړولو وس اوتوان نه لري . دا ځکه چې ډېر خودخواه دي . حال دا چې پښتانه دژوند انه له پاره اصول لري ، چې په هغه کودونو اومقرراتو کې هر څه حل دي . خو اخوند درويزه دهغو يادونه نه کوي . له بلې خوا داخوند درويزه اودپير روښان په وخت کې نور و اثارو دپير روښان اوافغانانو په باب دا ډول قضاوت نه دی کړی .

په ذخيرت الخوانين نومي کتاب کې چې دجهانگير پاچا ددورې نوابان معرفي شويدي ، روښاني نهضت ته داحترام په نظر کتل شوي دي ، دکتاب مولف شيخ فريدالدين بکري ددويم باب په سر کې وايي :
(( درتبيين احوال امرايي عاليشان که درزمان بهجت وسرور حضرت جنت مکاني جهانگير بادشاه عليه الرحمه والغفران بسروري وسرداري رسيده اند اوله دې څخه ښکاري چې شيخ فريد بکري جهانگير ته خاصه عقيده درلوده خو په عين زمان کې دی د روښانيانو په باب داسې ليکي :
درزمان سابق شخصي هندوستاني باسم بايزيد درميان طبقه ای افغانان روه درامده ۰ کشف وکرامات خودرا ظاهر ساخت ۰ اکثر افغانان را مريد خو دنموده عالمي با و گرويدند ومشهور به پير روشنايي گشت وکتاب خيرالبيان نام بزبان پشتو تصنيف کرده وانرا دران مردم رواج داد وان کتاب مدل بر اثبات وحدت وجود است ودلايل وحجت ساطع وبرهان قاطع از روی نص واحاديث واقاويل بزرگان سلف اورده ۰ الحق کتابيست نادر ۰ هر کس بنظر انصاف تامل کند فيضی از اوحاصل می نمايد وان عزيز دلها بهر کسی که نظر کرد اورا مطيع خو ساخت وبمبدا رسانيد ۰ ))
شيخ فريد بهکري ذخيرت الخوانين ص ۱۸۴ ادبي خيړنې ۰


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه:** دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

همدارنگه اخوند درویزه په دې ښه پوهیده چي روښان دپاچا هئ خیال په سر کي لري ، لکه چي وایي : (( دی هاله له ځانه خوښ شو چي مهدي شوم ، دمهدي چارې به کرمه ، لښکرې به کرم بنیادې هندوستان به ونیسمه ۰
اوازې يې کړلي ګډې هر چي اس لري راځي اس په ما پورې باسي داکبر باچا ټانګي واړه زما دي ۰ )) مخزن ۱۲۳ مخ
مشهور خدایي خدمتګار عبدالاکبر خان اکبر لیکي :
دپیر روښان اودروښانیانو پر خلاف مذهبي الزامونو اومخالفت کي لوی لاس دګورګاني بادشاهانو و ، هغوئ بادشاهي دپښتنو نه اخیستي وه اوپه دي وجهي دهغوئ سیاسي دوښمنان پښتانه اولودیان کمزوري اووهل شوي وو ۰ دسرحد اودغرونو پښتانه یو لوی طاقت وو اوازاد وو په یوه مرکز ددوی را جمع کیدل یعني دکاني ګرم نه تر سوات ،باجوړ ه پورې دبایزید دمریدانو پیدا کیدل اوبیا لیوني مریدان چي په هیڅ اړ نه و داداکبر لپاره لویه خطره وه ۰ ۰۰۰۰
حمزه شینواری د(ورکي خزاني )په سریزه کي خپل نظر داسي څرګندوي :(( پیرروښان دحنفي مذهب مقلد و اومسایل يې تر زیاتره دحنفي فقي سره تعلق لري اخوند درویزه بابا په خپله په تذکرت الابرار والاشرار کي لیکي چي پیر تاریك قایم الیل اوصایم الدهر دی ، لیکن دننه په زړه کي کافر دی ۰ اوس دا فیصله خو به انصاف پسند لوستونکي کوي چي کوم انسان ټول عمر روژه اوټوله شپه په لمانځه ولاړ وي هغه کافر کیدای شي اودزړه نه يې څوك خبر و ؟ زموږ کار خو هغه وخت دپښتو ادب دمعیار اندازه کول دي البته یو د وحدات الوجود مساله داسي شته ، چي دغو دواړو ترمنځه اختلاف سبب کیدای شي ، خو دا مساله باید چي دچا دتکفیر سبب ونه ګرځول شي ځکه چي ډیر اوچت اوسپیڅلي مسلمانان ددي مسالي معتقد وو ۰۰ په دي سلسله کي زیاتره تحریك دمغولي پاچا اکبر ددین الهی داجرا هم مرهون دی ۰ داسي ښکاري چي پیر روښان داکبر دکفر اوزندقئ په وجه توره ویستلي وه ۰ )) ۱۸۷ مخ
-ادبي څیړنې ۰

(ماثرالامرا) چي دصمصام الدوله شاهنواز خان اثر اوپروفیسور محمد ایوب قادري په اردو ترجمه کړی دی ، روښاني نهضت دګورګانیانو په مقابل کي بغاوت اوفساد ګڼل شوی دی نو له داسي مورخ څخه به څنګه دعیني قضاوت غوښتنه وشي ۰ ؟

دقاضي میراحمد شاه په تحفت الاولیا کي داخوند درویزه نظر تکرار شوی دی ۰
دیوسف زایي پټان کتاب چي په اردو لیکل شوی دی روښاني نهضت ته دازادئ غوښتني ، تحریك ویل شوی دی دکتاب مولف الله بخش یوسفي دمحمد عبدالشکور په حواله وایي چي بایزید انصاري یو صحیح مبلغ ، رهنما ، سیاستدان اوادیب و ، خو حضرت اخوند درویزه دمذهبي تعصب دذاتي عناد اوسیاسي اختلافاتو په وجه ده ته ملحد اوزندیق وویل ۰ مولف داخوند درویزه په باب لیکي چي دهغه اصلي نوم هم چاته مالوم نه دی خو دی په خپله شجره کي وایي چي دمور له خوا تاتاري مغول اودپلار له خوا یوناني یم ۰ دی لیکي چي اخوند درویزه پښتو ژبي ته دپیر روښان دمخالفت په برکت ډیر خدمت کړی دی.

پایله :
دپښتو ادب یو عمده اولویه برخه دمغلوالي سره دمبارزې انعکاس دی ـ دبایزید اواخوند درویزه مخالفت سیاسي مخالفت دمذهب په بڼه کي دی ـ دواړه مذهبي عالمان دې خو توپیر يې په دی کي دی چي اخوند درویزه ددربار په خدمت اودپښتنو دازادی دټکولو له پاره موظف دی ـ نو له دې امله په بایزید روښان اودهغه په غورځنګ دکفر تور لګوي ـ اوس که دغه اصل یعني ازادي غوښتنه اواواسارت غوښتنه په فکري لحاظ وڅیړل شي ان زموږ ددوارن پورې داخوند درویزه لیکه اودروښان لیکه او صفونه سره دوام کوي ـ
په دې مقاله کي :
دلیکوال له یادښتونو سربیره
ددې اثارو نه استفاده شویده :
۱-ادبي څیړنې داستاد روهي اثر
۲- دبستان مذاهب
۳- دخوشال خټك اخلاقي ایدیال
۴.روښان یاد
۵- دبایزید روښان عرفاني اوفلسفي څیړه ـ

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ